قرآن ولولئ، ځکه چې د قيامت په ورځ خپلو خاوندانو ته شفاعت کوونکي راځي

له ابو امامة الباهلي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «قرآن ولولئ، ځکه چې د قيامت په ورځ خپلو خاوندانو ته شفاعت کوونکي راځي زهراوين (بقرة او آل عمران) تلاوت کړئ، ځکه چې دواړه د قيامت په ورځ لکه د دوو وريځو يا سيورو په شان راځي، يا د مرغانو د دوو سپلونو په څېر، د خپل ويونکي څخه به دفاع کوي، البقره سورت ولولئ، ځکه چې اخيستل يې برکت، پريښودل يې پښېمانتيا، او جادوګران يې مقابله نشي کولی او نه يې اثر له منځه وړلې شي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د قرآن کريم په دوامداره تلاوت کولو ټينګار کړی؛ ځکه قرآن د قيامت په ورځ خپلو تلاوت کوونکو ته شفاعت کوي؛ هغوی چې عمل يې پرې کړی وي، بيا يې د البقره او آل عمران په سورتونو تاکيد وکړ او دواړه يې په زهراوين او ځلانده سورتونو سره ياد کړل؛ د روښنايۍ او هدايت له امله، او دا چې د تلاوت- او په معنا کې يې تدبر او پر هغه څه عمل کول چې پدې کې دي - اجر يې د قيامت په ورځ لکه د دوو وريځو او داسې نورو په څېر، يا لکه د مرغانو د دوو سپلونو په څېر چې وزرونه يې غوړولي او يو له بل سره نښلولي وي او په خپل خاوند يې سيوری جوړ کړی وي او دفاع تري کوي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د سورة البقرې پر دوامداره تلاوت، په معنا کې يې تدبر او پر هغه څه عمل تاکيد کړی دی چې پکې دي، او دا چې برکت او په دنيا او آخرت کې لويې ګټې پکې نغښتې دي، او پريښودل يې د قيامت په ورځ پښېمانتيا او افسوس دی او د دې سورت له فضيلت څخه يو دا دی چې جادوګران نه شي کولای هغو کسانو ته زيان ورسوي چې دا سورت تلاوت کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10851